AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۱/۰۸

# دا دی باران ودريد

## (د فريد باراني مړينه)

### دريمه برخه

«باراني د پسرلني باران په څير
لږه شيبه ووريد او ژر ودريد»

ستړی شوی انتظار مې په بدن کې
را لوېدلی دی يو دار مې په بدن کې

ګرمه، ګرمه مې پښتی ده له پوچوالي
رانه ورک دی هغه يار مې په بدن کې

چې تا ووينم نو ژر مې ځان مصروف کړم
دومره نشته اعتبار مې په بدن کې

ستا خبرو مې پر مخ خولې رهي کړې
که مزدور دی کوي کار مې په بدن کې

هم يې روح، هم يې وجود راته شل کړی
پيدا شوی يو بښامار مې په بدن کې

دلې، دلې انديښني ورته را درومي
سم جوړ شوی يو مزار مې په بدن کې

د باراني په باب زما د ليکنو او شعرونو له خپريدو وروسته، ده ما سره د چت په خونه کې مرکه پيل کړه. د چت په خونه کې زما او د باراني خبرې او د زړه خواله، زموږ د ځانګړي او خصوصي حريم حيثيت لري؛ دی خو لاړ آرام يې وکړ؛ خو زه د خپل خصوصي حريم دا خبرې ځکه له لوستونکو سره شريکوم چې د باراني د ژوند، فکري اړخونه، د ده د شخصيت ځينې برخې او په ځانګړي ډول د ده د هنر يعنې شعر ځانګړنې او ښکلاوې لوستونکو ته روښانه شي. ګوندې د دې خبرو ويل او شريکول د باراني په پېژندنه کې مرسته وکړي او د ده طرز تفکر، د ليکنې سبک او د مالوماتو کچه تر يوې اندازې مالومه شي:

«سلامونه بهاند صاحب، وبښه چې ستا ليکنې او په ليکنو کې د خپل شعرونو ځوابونه مې تراوسه نه وو لوستي، سبا مې د سمستر وروستی ازموينه ده او په ازموينو کې بوخت وم.
له ليکنو او شاعرانه ځوابونو مو ډيره ډيره مننه.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په افغان شاعرانو کي يوه ناروغي ګډه ده، او هغه د ځينو کړيو ملګرتيا ده چي د يو بل
ته لاسونه پړکوي. زه له نيکه مرغه له دوی سره نه يم په همدې خاطر تنها يم او شکر، يو يو خو هغه کسان مي
شعر خوښوي چي واقعا زما شعرونه ورته ارزښت لري. لکه تاسو، تکل صاحب او فردا صاحب.
ماته ستاسو هڅونه ارزښت لري نه د هغو کړيو.»

آصف بهاند:

«باراني صاحب!
په افغانانو کي بل مرض د سيمي او خپلوي پالل دي. زه تا له نږدې نه پيژنم، خو ته په دې نه يې خبر چي زما د ياد
داشتونو په صفحه کي ته او ستا شعرونه خاص ځای لري، دوه لنډکي ياد داشتونه او ورسره ستا د ښکلو شعرونو په
ځواب کي دوه نا ښکلي شعرونه مي چاپ کړل، خو ستا د رد او يا هم تاييد ځواب مالوم نه شو، ما داسي وانګيرله
چي تا زما په خبرو خاورې اړولي دي، خو دا دی اوس دې غږ جګ شو. زه ستا په شعرونو ډير څه ويلای او ليکلای
شم، خو دا دوې برخي مي ځکه لنډې ونيولي چي اوږده مطالب څوک لولي نه.
خپل لالا ته مي (ډاکتر لطيف بهاند) په هالند کي ويل چي داسي يو باغي شاعر پيدا شوی، ستا د شعر يو څو انځورونه
مي په مخ کي ورته کيښودل، دی خوشاله شو او راته يې وويل چي څه اوږده پر وليکه. بيا مي له عارف خزان سره
ياد کړې او...
په مقالو کي مي هم درته ليکلي او ويلي دي، اوس يې بيا درته وايم چي په دغسي ټولنه کي ځان سره پام کوه، زما له
پاره، د فرهنګيانو د کورنی له پاره لومړی ستا فزيکي موجوديت اړين دی، بيا دې فکر او تخليقات.

**خبرې ډيرې ته ډير لرې**
**خدای دې نږدې کړه چي په حال دې خبر کړمه**

په شعر کي د چا په چکچکو او خبرو پسي مه ګرځه. په همدغي سرکشئ او بغاوت باندې دې چي پيل کړی، همداسي
باغي او ياغي اوسه. د شعر يو نوم بغاوت دی، مقدس بغاوت چي په هغه کي د ټولني په نا خوالو باندې شاعر خاندي
او نه يې مني.
تا په کاملاً باغيتوب باندې پر دې خندلي، نه دې ده منلي او هغه دې دروغ ثابته کړې ده چي د کلي فاحشه باکره
خيژي.
دا د خلکو په مخ کي د ټولني د نا وړه او غير انساني قوانينو او خبرو غلط ثابتول دي. تا په شعر کي ثابته کړې چي
ستا کليواله پيغله پاکه ده، هسي په درواغو خلک فاحشه ورته وايي. دا د ټولنې په غير حقيقي باورونو باندې خندل
دي .
کلونه پخوا استاد عبدالروف بينوا، استاد مجروح ته د ځانځاني ښامار په مقدمه کي د مجروح د بغاوت مبارکي ورکړې
وه. دا دی زه او س تا ته ليکم:

د حقايقو په ويلو کي ستا خندل او ستا بغاوت دې مبارک وي، تل باغي اوسه، خو انسان دې هير نه شي!!!

ده (باراني) بيرته په ځواب کي ډير څه را ته وليکل: خپله لنډکی بيوګرافي، خپله شاعري او خپل مصروفيتونه او...
بشپړ متن يې دا دی:

«پوهيږم بهاند صاحب پښتانه ليکوال او شاعران همدا ستونزې لري. ما ستاسو ليکني او د شعرونو ځوابونو ولوستل،
خدای دې نه کړي چي ستاسو په خبرو مي خاورې شيندلي وي، مصروف وم او امتحانونه مي نن سهار ختم شول.
زه فکر کوم چي ليکني همداسي لنډې ښه دي، زه خپله کله کله ليکنه وکړم ډېر په لنډو مطلب خلاصوم، ځکه چي
ستاسو په خبره لوستونکی ستړی کيږي او نه يې لولي.
بهاند صاحب، زه ستاسو او ستاسو له لالا بهاند صاحب سره پيژنم او عارف خزان او کاوون طوفاني هم پيژنم خو
شايد زما عمر او استعداد لا د دې نه وي چي وې صحنې ته راشم، په همدې خاطر له ۱۳ کاله شاعرۍ وروسته لاهم
ګوښه يم، يو دليل يې شايد همدا د شاعرانو ترمنځ د سيمو او خپلويو پالل وي.
زه له فرهنګي کورنيو سره دلته په افغانستان کي دننه يوائې له استاد غضنفر سره پيژنم، يو ځل تکل صاحب ورته
زما په اړه ويلي وو چي ګني ښه شعر ليکم، بيا غضنفر صاحب زما سره اړيکه ونيوله او په ازادی راډيو کي مي يوه
لنډه مرکه هم ورسره وکړه او هغه دوستان چي په بهر کي دي، لکه تاسو فردا صاحب او تکل صاحب... تر اوسه
مي يوائې له فردا صاحب سره له نږدې ليدلي دي، هغه په همدې ورځو کي افغانستان ته راغلی وو .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

پوهېږم بهاند صاحب، زه پوهېږم که له دغو شاعرانو سره بوځای شوم زما نه هم هماغسي څوک جوړېږي چي دوی دي. ته خو په افغانستان کي نه يې، دلته ډېر ستر، ستر شاعران دي چي د خلکو درناوی غواړي، بواځې د ملا کار نه کوي چي خپل لاسونه خلکو ته د ښکلولو په موخه اوږده کړي .
له ميني دي مننه بهاند صاحب، اوس به خپل په اړه يو لږ معلومات درکړم ترڅو نور هم سره نږدې شو:

**زما نوم فريد دی، باراني تخلص کوم، زما نيکه تقريبا ۷۰ کاله وړاندې د لوګر له زرغون ښار نه د بادغيس مرغاب ولسوالی ته کډه شوی وو. هماغلته پيدا شوی يم او تقريبا ۱۳ کاله مي هلته ژوند کړی دی وروسته هرات ته راغلي يو او اوس ۱۲ کاله کيږي چي په هرات کي ميشت يو. مور مي دري ژبې ده او پلار مي تر کوم ځايه چي خبر يم هغه هم دري ژبی دی خو زمونږ سره ټول عمر پښتو غږېدلای... هغه په پښتنو ميشتو سيمو کي زيږېدلای، شايد همدا علت وي چي زمونږ سره تل پښتو وغږېد .**
**زه ۲۵ کاله عمر لرم، د انجينري پوهنځی مي په دريم کال کي پرېښوده او اوس په کابل کی د اريانا شخصي پوهنتون د طب پوهنځی د پي سي بي محصل يم او کورنی مي په هرات کي ده .**
**په دواړو ژبو فارسي ـ دري او پښتو شعر ليکم خو پښتو شاعري مي ډېره ده نظر فارسي ته... ځکه، حتا که د دري ژبو شاعرانو سره هم ناست يم، هغوی راته ويلي چي پښتو غريبه ژبه ده او بايد ټول فوکس دې پر پښتو وي. که نه نو دري هم ډېره خوږه ژبه ده او بيا چي مورنی شي خو بيخي نو...!**

بهاند صاحب زه سبا هرات ته ځم، که مي ناوخته د ليکني ځواب درکړ، خبر اوسي.»

**ما وې چي تا به لا ليدل که نه ليدل غمونه**
**توره تياره ولړه او ماته ګډېدل غمونه**

**اوږد مي سفر وو او د مات زړګي په ساندو کي مي**
**دانه، دانه لکه غنم را ماتېدل غمونه**

**په هغه شپه ټولي دنيا په کرس خندا کوله**
**په هغه شپه يواځي ما، چي زيږول غمونه**

(باراني)

**«... له تنهايی وېرېږم،**
**ما ته زما د پردو شوو پلونو لار وښاياست،**
**غواړم له خپلو بلاربو شوو انديښنو وتښتم»**

(باراني)

د دريمي برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ